د سرحدونو او قبایلوچارو وزارت اړوند

# د معـلوماتي پوښـتنو بانک

Ketabton.com

لیکنه اوترتیب: نعمت الله "پټانزی"

کال: ۱۳۹۹ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دکتاب پېژندنه :

| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | دسرحدونو او قبايلوچارو وزارت اړوند دمعلوماتي پوښتنوبانک |
| ليکوال: | نعمت الله "پټانزی" |
| کمپوز او ډيزاين: | پخپله ليکوال |
| خپرندوی: | کتابتون ويب پاڼه(www.ketabton.com) |
| دخپريدوکال: | ۱۳۹۹ لمريز |
| آنلاين چارې: | شمشاد "زهير" |

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ډالۍ

**هغوی ته چې هیواد وړباندې ترېل هرڅه ډېرګران وي.**

**"پټانزی"**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د سريزې پرځای

**الحمد لله ، الحمدلله والصلاة والسلام على رسول الله؛**

**وبعد:**

د سرحدونو اوقبايلوچارو وزارت اړوند دمعلوماتي پوښتنو بانک چې اوس ستاسو په لاسونوکې دی ما دهيوادنۍ مينې پرمحور د هيواد وياړلي اوزرين تاريخ ته په کتوسره دکره علمي منابعو څخه په ګټې اخيستنې سره ترتيب کړ چې په دې کتاب کې دجرګو،مرکو،سولې ،شخړو،قومونو ، قبايلو اوسرحدي کرښو په اړه ډير اړين معلومات دپوښتنې اوځواب په بڼه ځای پرځای شوي دي چې پرلوستلوسره به يې دډيرو هيوادوالو اوهيواد پالو هيوادنۍ مينه او علمي تنده ماته کړي ، په همدې اساس مې وپتيله چې د معلوماتي پوښتنو دا بانک ترتيب کړم ترڅو لوستونکي يې له ګټوبرخمن شي.

**په درنښت**

**نعمت الله "پټانزی"**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱.پوښتنه :** جرگه تعریف کړئ ،لومړی جرگه څه نومیده اوڅه وخت دایره شوه؟

**ځواب: دجرگې لغوي معنی :**

- جرگه د پښتو لرغونی لغت دی، چې د (ج) په زور کې او د (ر) پـه سکون ویلـه کېږي. ځینې پښتانه یې په سپکه (ی) او سپک (واو) جېرگـه او جورگـه هـم وایـي: معنـی د یـوه هـدف، سلا او مشورې لپاره د څو کسانو یا ګڼو کسانو راغونډېدل، ناسته او یوځای کېدل دي.

- په دري کې جرگ او جرگه د (ج) په زور او د (ر) په سـکون پـه لغـت کـې د غېـږ باسـو (کشـتي گیرانو) کارگاه او تعلیمگاه ته وایي، چې د اتلانو کـړی تـرې را چاپېره وي، همـدا راز د خلکـو یـا څاروو عمومي حلقې ته هم وایي، یو ډول ښکار ته، چې خلـک کـړی تـرې را گرځـوي هـم وایـي او عامه معنی یې د ګڼو خلکو را غونډېدل او یوځای کېدل دي.

- په ترکي کې هم دا کلیمه په همدې تلفظ او معنی ده او اردو ته هم له همدې معنی سره تللې ده).

**دجرگې اصطلاحي تعریف :**

- د جرگې اصطلاحي معنی تر دې هم پراخه ده او د افغانانو هغـې تـاریخي عنعنـوي موسسـې او غونډې ته وایي، چې د اوږدو زمانو په بهیر کې یـې زمـوږ د اولـس ټـولې ټـولنیزې قـومي او مـلي، سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، کلتوري او حتی مذهبي شخړې، ستونزې، نانډری، تـاوتریخوالی او خنډونه له منځه وړي او حل کـړي او پـه دې برخـه کـې یـې غـوڅې پرېکـړې او فیصـلې کـړي او کوټلې تصمیمونه یې نیولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**يا په بل عبارت :** جرګه د خپل ولس اراده تمثيلوی په بحرانی حالاتو کې د مشکلاتو د حل په خاطر جوړيږي يا دايريږي تر اوسه د يوه ملي او رسمي دود له مخې په هيواد کې پاتې ده.

د تاريخ له نظره د سبها او سيمتی جرګې د اريايانو لومړۍ جرګې دی چې د هغه وخت مشکلات به يې حلول او د يما پاچا په وخت کې دايرې شوې دي.

**۲.پوښتنه :** دجرګې اومرکې ترمنځ توپيرڅه شی دی ؟

**ځواب :** مرکه تر جرګې وړه حلقه ده، چې د کلي - کور واړه موضوعات او شخړې حل اوفصل کوي او جرګه د لويو او مهمو مسايلو د حل له پاره جوړيږي.

**۳.پوښتنه :** لويه جرګه څه شی ده؟

**ځواب :**کله چې جرګې ته وړاندې کېدونکې موضوع د اهميت او کيفيت له مخې لويه او پراخه وي له جرګې سره سم د لويه کلمه زياتيږي او لويه جرګه يې بولي، زموږ په تاريخ کې د لويوجرګو شمېره زياته ده او په سلګونو جرګې شته، چې مهمې تاريخي پرېکړې يې کړې او تاريخي ارزښت يې خوندي شوی دی.

**۴.پوښتنه :** دجرګې اړتيا څه شی ده ؟

**ځواب:** جرګه هغه وخت راغوښتل کيږي چې د ټولنې د ټولنيز نظم سياسي، اقتصادي، فکري، کلتوري او يا کوم بل اړخ به له ګواښ او تهديد سره مخامخ شي او د هغې د ټينګښت او بيا رغونې له پاره د بند بنا کولو اړتيا وليدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۵.پوښتنه:**لویه جرگه دځه شی لپاره دایریږي؟

**ځواب:** د لویې جرگې د جوړېدو اړتیا له بېلابېلو عواملو نه را زېږېدلې، کله بهرنی یرغل او تېری، کله کورنۍ شخړې او جنگونه، کله د قدرت تشه او کله د قانون جوړولو او د نړیوالو او ملي پېښو په وړاندې د تصمیم نیولو له مخې لویه جرگه راغوښتل کېږي.

**٦.پوښتنه:لویه جرگه څوک رابولي؟**

**ځواب:** ۱- خو کله چې د بهرني برید په ترڅ کې د هېواد اداره او واکمني له منځه ځي او د تصمیم مرکز ورانیږي، نو بیا ملي مبارزین له کلیو نه را ولاړیږي، د تصمیم یو عاجل مرکز جوړوي او بیا د دې مرکز په وسیله جرگه را غواړي او د هغې د تصمیمونو په رڼا کې مبارزه پرمخ بیایې.

۲- د نړیوالو پېښو پر وړاندې د تصمیم نیونې یا د خلکو د ژوندانه د ښه کولو په غرض د قانون او نظام جوړونې لپاره جوړېدونکې جرگې واکمن حکومت راغواړي او زمینه ورته برابروي.

**۷.پوښتنه :** په جرگوکې څوک گډون کوي؟

**ځواب:**په جرگو کې معمولاً علماءکرام،قومي مشران،خانان،نرخیان،روحانیون او ددولت لوړرتبه مامورین او پوه کسان گډون کولای شي.

**۸.پوښتنه :**دجرگې غړي باید کوم صفات ولري؟

**ځواب:** په جرگه کې گډون کوونکي افراد معمولاً د قومونو او خېلونو مشران وي، چې گډون یې له انفرادیت سره سره د جمعیت معنی لري یعني دوی ظاهراً یو فرد وي، خو بالقوه یو قوم، یو خېل او یو ټولگی وي، چې په جرگه کې د ټولو نماینده گي کوي. ژبه او ژمنه یې د خپلو ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library


تړلو پرګنو ژبه او ژمنه وي او د هغوی په بشپړ ملاتړ ترسره کېږي، دوی د اولسونو ګوډې ماتې په پوره تدبير جوړولای، کوشېرولای او ټولنيزې ستونزې له منځه وړلای شي.

**۹.پوښتنه :**جرګه څه وخت په اساسي قانون کې له يوه ځانګړي څېرکي سره ذکرشوه؟

**ځواب:** د ۱۳۴۳ کال په اساسي قانون کې لويې جرګې يو ځانګړی څپرکی پيدا کړ، په دې قانون کې له بده مرغه په لويه جرګه کې د اولس د فوق العاده نماينده ګی او په پراخه پيمانه ګډون مخه ونيول شوه او په قانون کې وليکل شول، چې جرګه د مشرانو جرګې، اولسې جرګې او د ولايتي جرګې له وکيلانو څخه جوړيږي او په دې توګه د اولس هغه پراخه برخه اخيستنه، چې حتی ځينې جرګو ته يې له يوې اولسوالۍ نه درې تنه وکيلان را ليږلی شول له منځه ولاړه.

**۱۰.پوښتنه :** پخوا به دجرګې امنيت چا نيوه ؟

**ځواب:** پخوابه دجرګو امنت اربکيانو نيوه .

**اربکيان:** اربکي د يوه لرغوني قبيلوي عرف له بقايا وو څخه دي. په آريايي قبيلو کې به د غسې قبيلوي سپايي د جګړې په وخت کې په قبيلوي جګړو کې د جنګي ټولګيو مشر- و او په عادي حال کې به يې د قوم د امنيت ساتل پر غاړه وو،همدارنګه اربکيان هغه قومي سپايان دي، چې د جرګې په وخت کې د جرګې امنيت ساتي او د پرېکړو څارنه يې کوي. همدا اربکيان د جرګې د پرېکړو تر اعلانولو وروسته د هغو د تطبيق لپاره ګمارل کېږي او حتی هغه سزاګانې، چې جرګې ټاکلې د هغه مرتکبينو ته ورکوي، که څوک د جرګې له پرېکړو څخه غاړه وغړوي دوی کولای شي، چې پر کور يې اور پورې کړي او ان چې د مرګ سزا ورکړي.

**۱۱.پوښتنه:** دميرويس نيکه په وخت کې څوجرګې جوړې شوې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:** دتاريخي څېړنو په استناد دميرويس نيکه په وخت کې درې جرګې جوړې شوې دي؟

**۱۲.پوښتنه:** دميرويس نيکه لومړۍ جرګه په کوم کال ،چيرته اودڅه لپاره جوړه شوه؟

**ځواب:** دميرويس نيکه لومړۍ جرګه په ۱۷۰۵ م کال کې دکندهار زاړه ښار لويديځ لوري ته شپږميله ليرې د(کوکران )په سيمه کې جوړه شوه ، په دې جرګه کې پريکړه وشوه چې ميرويس خان نيکه دې د دې لپاره چې په راتلونکې کې د ژور نفوذ له لارې وکولای شي چې ديرغلګرو صفويانو پر وړاندې اولس پاڅون ته په اغيزمنه توګه چمتو کړای کړي نو؛ د صفوي حکمران ګرګين دخپلوۍ وړانديز د ومني.

**۱۳.پوښتنه:** دميرويس نيکه دوهمه جرګه په کوم کال ،چيرته اودڅه لپاره جوړه شوه اوهمدارنګه له لومړۍ جرګې سره يې توپيرڅه ؤ؟

**ځواب:** دميرويس خان نيکه دوخت دوهمه جرګه په ۱۷۰۷م کال کې دکندهارشمال ختيځ ته په (مانجه) سيمه کې جوړه شوه او دصفوي حکمران پرضد يکې دعمومي پاڅون نقشه جوړه شوه او په عمل کې پلي شوه ، ددې جرګې توپيرله لومړۍ جرګې سره دا ؤ چې ګډون وال يې ډير ؤ او دپښتنو دبيلابيلو قومونو سربيره دهيواد نورو قومونو لکه : تاجکو،ازبکو،بلوڅو اوهزاره ؤ هم پکې ګډون کړی ؤ.

**۱۴.پوښتنه:** دميرويس خان نيکه دريمه جرګه کومه وه؟

**ځواب :** داجرګه ددوهمې جرګې دپاڅون تربرياليتوب وروسته په ۱۱۱۹ ه ق کال کې ترسره شوه چې ميرويس خان نيکه پکې د دهيواد دملي مشر په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۵.پوښتنه :** دشيرسرخ جرگه په کوم کال او دڅه لپاره جوړه شوه او کومو کسانو پکې برخه درلوده؟

**ځواب :** دشيرسرخ جرگه په ۱۷۴۷ م کال کې دکندهار دنادرآباد په پوځي کلا کې دنادرافشار ترمرگ وروسته دهيواد دخپلواکۍ لپاره جوړه شوه چې له امله يې احمدشاه بابا دافغانستان پاچاه وټاکل شو او په دې جرگه کې نور محمد خان غلجی، محبت خان پوپلزی، موسی خان اسحق زی، نصر الله نورزی، حاجي جمال خان بارکزی اوداسې نورو مشرانو گډون درلود،نوموړې جرگه دکميت له نظره کوچنۍ او دکيفيت له نظره ډيره لويه وه .

**۱٦.پوښتنه :** اميرشيرعلي خان جرگې څه وخت او دڅه شي لپاره دايرې کړې؟

**ځواب:** امير شيرعلی خان دوه جرگې راوبللې:

۱- امير شېرعلي خان چې يو روڼ فکره پاچا و، لويو جرگو ته يې يو ځل بيا ارزښت ورکړ، ده په ۱۸٦۵ م کال په کابل کې يوه لويه جرگه جوړه کړه. دې جرگې ته يې د هېواد له بېلابېلو سيمو نه دوه زره کسان را وبلل، څو ده ته د ده د وروڼو د اختلاف او د ښمنيو په باب مشوره ورکړي، چې تر دې مشورې وروسته له خپلو وروڼو سره جگړې ته متوجه شو، په نتيجه کې يې ماته وخوړه او د کابل تخت يې وروڼو ترې ونيو .

۲- همدا راز ده د خپلې واکمنۍ په دوهمه دوره کې په ۱۲۹۰ هـ ق (۱۸۷۳م) کال د خپل ۱۳ کلن زوی عبدالله خان د وليعهدۍ له پاره يولوی جشن جوړ کړ او د شمس النهار د يوه اقتباس په استناد پنځه سوه زره تنه مخور اوسپين ږيري ورته را غوښتل شوي وو او اووه شپې او ورځې يې دوام درلود. د همدې لويې غونډې په دوران کې امير شېرعلي خان د افغانستان لومړنۍ کابينه جوړه کړه، سيد نورمحمد شاه يې صدراعظم وټاکه د بېلابېلو چارو له پاره يې وزيران موظف کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا دواړې جرګې د کمیت په لحاظ ډېرې لویې وې او خصوصا د دوهمې جرګې د ګډون کوونکو د شمېر په اقتباس کې که غلطي شوي وي هم یقینا ډېره لویه جرګه به وه، خو کیفیت یې د پخوانیو جرګو غونډې نه و، ځکه اهداف یې تر هغې واړه وو، له ورونو سره جګړه د اقتدار جګړه وه او خلکو له داسې موضوع سره ډېره علاقه نه ښوده او هم د ولیعهد ټاکل د پاچا یو بل هوس و، چې د خپل لوی زوی محمد یعقوب خان سر ه د مخالفت له امله یې کړی و، خو بیا یې هم لویه مېوه په افغانستان کې د یوه منظم او عسکري حکومت او کابینې را منځ ته کېدل وو.

**۱۷.پوښتنه :**امیرحبیب الله دبې طرفۍ جرګه په کوم کال او دڅه لپاره راوغوښته اوڅومره کسانو پکې ګډون کړی ؤ؟

**ځواب:** کله چې په ۱۹۱۳م کال کې لومړۍ نړیواله جګړه ونښته ، انګریزانو دافغانستان له تحت الحمایه حکومت نه تمه درلوده چې په دې جګړه کې دهغوی ملاتړ وکړي ،ددې موضوع لپاره امیرحبیب الله په ۱۹۱۵ م کال د خپلې بې طرفۍ د تایید له پاره د افغانستان مشهور مشایخ لکه: د اسلام پور پاچا (میرصاحب جان) د موسهي اخونزاده (ملامحمد جان) د تګاو ملا صاحب، د هډې اخونزاده، د برو میا صاحب، د حصارک میا صاحب، شمس الحق صاحب، د شور بازار حضرات، حافظ جی صاحب، ملا محمد مرید، ملا عبدالغفار اخونزاده او نور کابل ته را وغوښتل. د دغو مشایخو او نورو اولسي وکیلانو په شمول یوه لویه جرګه د امیر په وړاندې جوړه شوه او د ملت د اتفاق او د دولت د بېطرفۍ د سیاست ملاتړ یې وکړ.

**۱۸.پوښتنه:**داتحادمشرقي په نامه لویه جرګه چیرته ،په کوم کال ،دڅه لپاره اودچاترمشرۍ لاندې دایره شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:** کله چې افغانستان دغازي امان الله خان تررهبرۍ لانـدې لـه انگریزانـو څخـه پـه ۱۹۱۹م کال داگست په میاشت کې خپلواکي وگټله داسې آوازې خپرې شوې چې انگریزان یو ځل بیا پـه افغانستان تیری کوي په همدې اساس د اتحادمشرقي په نامه لویه جرگه پـه ننگرهـارکې دهـډې ملاصاحب زیارت ترځنگ په ۱۹۱۹م کال کې دغازي نادرخان ترمشرۍ لاندې جوړه شوه او پـه دې غونډه کې د مشرقي( اوسنی لغمان، کونړ او ننگرهار د ولایتونو) د بېلابېلو قومونـو سـپین ږیـري، عالمان، سادات،مشایخ او نور مخور سره را غونډ کړای شول او د خپلواکۍ د ساتنې او د وطـن د دفـاع او آبـادۍ پـه برخـه کـې یـې مهمـې پرېکـړې وکـړې، دوی غوښـتل، چـې انگرېـزان دې د افغانستان ازادي د زړه له کومي ومني او که نه نو د سرحد ټـول اقـوام او قبایـل د جهـاد لـه پـاره چمتو او آماده دي او د افغانستان ازادي به په خپلو وینو ساتي.

**۱۹.پوښتنه:** داتحادمشرقي په نوم اخبارچیرته او په کوم کال کې خپور شو؟

**ځواب:** داتحادمشرقي په نوم اخبارپه ۱۹۲۰ م کال کـې پـه مشرقـي کـې د اتحادمشرقـي پـه نـوم دلویې غونډې په وياړپه خپریدو پیل وکړ.

**۲۰.پوښتنه:** دلومړني اساسي قانون لویه جرگه چیرته په کوم کال او دڅه لپاره جوړه شوه؟

**ځواب:** دلومړني اساسي قانون « اسـاسي نظامنـامې» د منلـو او تصـویب لـه پـاره د ۱۹۲۳ کـال د فبرورۍ په ۲٦ نېټه د ملت د مشرانو لویه جرگه را وغوښتله شوه، چـې ۸۷۲ نماینـده گـانو برخـه پکې درلوده او د افغانستان لومړنی اساسي قانون یې تصویب کړ.

**۲۱.پوښتنه :** اساسي نظام نامې څومادې درلودې او کوم موضوعات پکې شامل ؤ؟

**ځواب:** اساسي نظام نامې ۷۳ مادې درلودې او زموږ د هېواد سیاسي او اجتماعـي بنـه، د خلکـو حقوق، اداري تشکیلات او اساسات یې ټاکلي وو. دې قـانون خلکـو تـه د فکـر د ازادۍ، د کـار د

(c) ketabton.com: The Digital Library


ازادۍ، د خبرو د ازادۍ او د کور او حيثيت او مصونيت وعده ورکړې وه او د قانون حکومت پکې اعلان شوی ؤ.

**۲۲.پوښتنه:** ددولت لومړنۍ شورا دچالخوا ، په کوم کال جوړه شوه او څه دنده یې درلودې؟

**ځواب:** د دولت شورا دغازي امان الله خان لخوا د۱۹۲۱ کال په اگست مياشت کې جوړه شوه ، چې د هېواد مخور، عالمان، سادات او مشايخ پکې را غونډ وو، د قوانينو مسودې به يې جوړولې او د ارگ په شمالي برج کې يې ځای ورته ټاکلی و.

**۲۳.پوښتنه:** دپغمان لويه جرگه دچالخوا ،په کوم کال دڅه لپاره جوړه شوه اوڅومره کسانو پکې گډون کړی ؤ؟

**ځواب:** نوموړې جرگه دغازي امان الله خان لخوا په ۱۹۲۴م کال کې دکابل په پغمان کې جوړه شوه او په دې لويه جرگه کې ټول ۱۰۵۲ تنه را غونډ شوي وو، چې ۲۳۱ تنه يې د دولت وتلي مامورين او پاتې يې د بېلابېلو ولاياتو خانان، سيدان، عالمان، شيخان او ټاکلي وکيلان وو. په دې جرگه کې د دولت خارجي تړونونه، روابط، کورني قوانين او مسايل يې تر غور لاندې ونيول، ليکن په حقيقت کې دا لويه جرگه د منگلو د سر اخستنې په باب وه او کوم اعتراضونه، چې هغوی دقوانينوسره درلودل دهغوی ترميم وشو.

**۲۴.پوښتنه :**افغانستان له کومو هيوادونو سره گډې پولې لري بيان يې کړئ؟

**ځواب:** افغانستان له لاندې هيوادونو سره گډې پولې لري؛

**۱- له ايران سره گډه پوله:**

(c) ketabton.com: The Digital Library


د افغانستان او ایران تر منځ پوله له ملک سیاه غره شروع تر ذوالفقار درې پورې رسیږي.(۹۲٦کیلومتره)

**۲- له ترکمنستان سره پوله:**

له دې هیواد سره د افغانستان پوله، د هرات ولایت د ګلران ولسوالۍ له ذوالفقار درې څخه شروع د بلخ ولایت د شورتپې ولسوالۍ تر یوې برخې پورې رسیږي. (۸۷۴کیلومتره)

**۴- له ازبکستان سره پوله:**

له ازبکستان هیواد سره د افغانستان پوله د بلخ ولایت له شورتپې ولسوالۍ څخه شروع او د بلخ ولایت تر کلدار ولسوالۍ پورې رسیږي. (۱۴٦کیلومتره)

**۵- له تاجکستان سره پوله:**

د افغانستان او تاجکستان ګډه پوله د بلخ ولایت له کلدار ولسوالۍ څخه شروع د بدخشان ولایت د واخان ولسوالۍ تر یولي درې پورې رسیږي. (۱۳٦۰کیلومتره)

**٦- له چین سره پوله:**

افغانستان له چین سره د بدخشان ولایت د واخان ولسوالۍ له یولي درې د همدې ولایت د واخان ولسوالۍ د واخجیر یا کلیک غاښې پورې ګډه پوله لري. (۹۰کیلومتره)

**۷- له جمو او کشمیر سره پوله:**

له جمو کشمیر سره زموږ ګډه پوله د بدخشان ولایت د واخان ولسوالۍ له واخجیر غاښې شروع د همدې ولایت د واخان ولسوالۍ تر نوښاخ پورې رسیږي. (۱۰۲کیلومتره)

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۸- د یورنډ فرضي کرښه:**

دا کرښه د واحد ملت پر سینه کښل شوې جبري کرښه ده، چې د بد خشان ولایت د واخان ولسوالۍ له نوښاخ سیمې څخه شروع د نیمروز ولایت د چهار برجک ولسوالۍ تر ملک سیاه غره پورې رسیږي. (۲۳۱۰کیلومتره)

**۲۵.پوښتنه :** افغانستان دمنځنۍ آسیا له کومو هیوادونوسره ګډه پوله لري؟

**ځواب:** له ترکمنستان،ازبکستان او تاجکستان سره.

**۲٦.پوښتنه :** دافغانستان سرحدي ولایتونه څو او کوم دي؟

**ځـــــواب:**سرحـــــدي ولایتونـــــه ۲۰ دی :بدخشان،کنړ،نورســـــتان،ننګرهار،لوګر، پکتیـــــا ، پکتیکا،خوســـــــت،زابل،کندهار،هلمند،فراه،نیمروز،هرات،بادغیس،فاریاب،جوزجان،بلخ،کندز اوتخار.

**۲۷.پوښتنه :** دډیورنډ کرښه له څو ولایتونو او ولسوالیوسره نښلیدلې ده؟

**ځواب:** دډیورنډ فرضي کرښه له ۱۲ ولایتونو او٤٦ ولسوالیو سره نښلیدلې ده.

**۲۸.پوښتنه :** دپکتیا ولایت دمرکز ، ولسوالیو او پرتو قومونو نومونه واخلئ؟

**ځواب:**دپکتیا ولایت مرکز ګردیزدی او ولسوالۍ یې دادي :

ځـاځي آریوب،احمدخیل،ډنډپټان،څمکني،احمدآباد،ســیدکرم،میرزکي،جاني خیل،شـواک،ګرده څیرۍ،لږمنګل،وزی اوزرمت دي.

میشته قومونه یې : احمدزي،ځاځي،منګل،ځدراڼ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲۹.پوښتنه :** دپکتیکا ولایت د مرکز، ولسوالیو او پرتو قومونو نومونه واخلئ؟

**ځـــواب:**دپکتیکـــا ولایـــت مرکزشـــرنه ده او ولســـوالۍ یـــې دادي:گومل،گیـــان،وازه خوا،اورگون،سرروضـــــــه،یحیی خیل،ډیله،دومند،زیړوک،یوســـــــف خیل،تروه،وړمـــــــه یی،سروبی،برمل،نکه او متِه خان دی.

میشت قومونه یې دادي: خروټي،یحی خیل،سلیمان خیل،ولی خیل،اتمانخیل او وزیر دی.

**۳۰.پوښتنه:**دډیورنډ کرښې له کوم ځای څخه پیل اوچیرته پای ته رسیږي اوددې کرښې دواړو غاړو ته کوم ځایونه پراته دی؟

**ځواب:** دډیورنډ کرښه دچترال څخه پیل او ترملک سیاه غره پورې رسیږي؛د ډیورنـډ کرښـې دې غـاړې تـه ۱۲ ولایتونـه او ۴٦ ولسـوالۍ پرتـې دی اوهغـه غـاړې تـه یـې اوه ایجنسـۍ،یوه سوبه(بلوچستان) او دچترال ضلع پرتې دي.

**ولایتونـــه:** بدخشان،نورستان،کنړ،ننگرهار،لوگر،پکتیا،خوســـت،پکتیکا،زابل،کندهار،هلمند او نیمروز.

**سوبه :** بلوچستان.

**ایجنســـئ:** جنـــوبي وزیرستان،شـــمالي وزیرســـتان،کرمه ایجنسي،موموندایجنسيـــ ،خیـــبر ایجنسي،باجوړایجنسي او اورکزي ایجنسي.

**۳۱.پوښتنه:** جنوبي وزیرستان څه وخت منځ ته راغـی ،څـومره مسـاحت لري،کـوم قومونـه پکـې میشت دي او د هیواد دکوم ولایت ولسوالۍ ورسره نښتي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:** جنوبي وزيرستان په ۱۸۹۵ م کال کې منځ ته راغی،٦٦٢٠ کيلومتره مساحت لري،احمدزي،بيټني او وزير قومونه پکې ميشت دی او دپکتيکا ولايت د ګيان،برمل،وړمه يی او تروی ولسواليو سره ۳۲۱ کيلومتره ګډه پوله لري.

**۳۲.پوښتنه:** شمالي وزيرستان څه وخت منځ ته راغی ،څومره مساحت لري،کوم قومونه پکې ميشت دي او د هيواد دکوم ولايت ولسوالۍ ورسره نښتي دي؟

**ځواب:** شمالي وزيرستان هم په ۱۸۹۵ م کال کې منځ ته راغی ،۴۷۰۷ کيلومتره مساحت لري،وزير،احمدزی،اتمانخيل او داوړ قومونه پکې ميشت دی او د خوست ولايت دګوربز او تنيو له ولسواليو سره ګډه پوله لري.

**۳۳.پوښتنه :** قبيله څه ته ويل کيږي؟

**ځواب :** قبيله عربي کلمه ده چې جمع يي قبايل کېږي او مانا يې ده ډله يا ګروپ؛ يعنې د پلرونو او نيکونو د سلسلې راټول شويو جوړښتونو او هډ بنديو ته قبيله ويل کېږي. په انګريزی کې ورته ټرايب (Tribe) چې د لاتين ژبې له Tribus څخه اخيستل شوي او په عربي کې ورته شجرة وايي او مانا يي ده ونه. او پښتو موزون انډول يي خيل يا ټبر دی.

**۳۴.پوښتنه :** دپښتنو قبيلوي سلسلې کومې دي ؟

**ځواب :** د پښتنی خيلونو او ټبرونو اتنوګرافيك جوړښتونه (Ethnographic structures) او هډ بندي د يوې ونې د څانګو په څير يې چې يوه څانګه له بلې شنه کېږي او بيا له هغې بله رازيږيږي او غزيږي بيا بله او بله. نو که ړومبی څانګه مور وي نو دوهمه څانګه لور ده، دريمه لمسۍ، څلورمه کړوسۍ ده، پنځمه کواسۍ ده، شپږمه کودۍ او اوومه پردۍ ده دا سلسله

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوام مومي خو د قبیلې موډل ددغه ځنځیر په اتمه کړۍ کې شلیږي. کټ مټ همدغه ځنځیري سلسله د قبیلوي ټولنې په اتنوګرافیکو جوړښتونو کې ژوندۍ لیدل کیږي.

**۳۵.پوښتنه :** قبیلوي سلسلې څه وخت منځ ته راغلې اوله څه شي سره تړاو لري؟

**ځواب :** قبیلوي سلسلې د انسان د هستیدنې له تاریخ سره یوځای منځ ته راغلې او د ټولنیزو جوړښتونو او هډ بندیو بهیر هم پیل شوی دی.په دې اساس قبیله یا خیل یوه داسې مقوله ده چې له یو تاریخي (اقتصادي، اجتماعي) دوران سره اړه لري.

**۳٦.پوښتنه :** آیا له پښتنوقبیلو پرته نورقبایل هم شته ؟

**ځواب :** د آسیا او افریقا په لویو وچو کې په ګڼ شمیر کې قبایل د ټولنیزو جوړښتونو په بڼه موجود دي. همداشان امریکایي هندیان او سور پوستان (American Indians) نن هم قبایلي ژوند لري په آسترالیا او نوي زیلاند کې دا ډول قبایلي ګروپونه او ټولنې د ابورجین (Aborigines)په نوم یادیږي او ژوند کوي.

**۳۷.پوښتنه:** پښتانه قبایل کوم دي؟

**ځواب :** د کنړ ولایت له ارندو او اسعدآباد نه نیولي بیا د کندهار تر سپین بولدك پورې له دیر او با جوړ نه نیولي بیا د کویټې تر چمن پورې د کرښې دواړه غاړو ته پښتانه قبایل چې په یوه ګډ جغرافیایي چاپیریال کې استوګنه لري.

**۳۸.پوښتنه :** دډیورنډ دفرضي کرښي دواړو غاړوته پراته قبایل څه مناسبات لري؟

**ځواب:** هغوی د وینې، رګ، ژبې، کلتور، مذهب، روحیاتو، رسم، رواج او عنعناتو په کلکو مزیو سره ګنډلي دي او ګډ تاریخي افتخارات لري. د بیلګې په توګه : سالارزی، ماموند او مشوانې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


کنړ، دیر او باجوړ په ګډه سیمه ییز چاپیریال کې میشته دي. مومند او صافي په کنړ او مومند ایجنسي کې، مومند او شینواري په ننګرهار، مومند ایجنسي او خیبر ایجنسي کې ګډه پراته دي.

ځمکني، منګل، ځدران، مقبل او ځاځي په پکتیا او کرم ایجنسي کې ګډه پریوت لري. د خوست او شمالي وزیرستان ګربز، سیدګی او وزیر (ټیټي مداخیل) ټینګ ورورګلویز تړون لري. د پکتیکا او جنوبي وزیرستان وزیر، سیدګي سلیمانخیل او د وتاڼي د ګډه ځمکني چاپیریال خاوندان دي. همدا ډول د زابل، توبه کاکړي او ژوب کاکړ په واحد سیمه ییز قلمرو کې ژوند کوي. د کندهار، کویټې، چمن، ګلستان او توبه اڅکزي- نورزی او اڅکزي یو تر بله ورونه دي. همدا شان د نیمروز بلوچ د بلوچستان له بلوچو سره په وینه او رګ شریك دي.

**۳۹.پوښتنه:** دقبایلي سیمو نفوس اومساحت څومره دی ؟

**ځواب:** مجموعي نفوس یي تر شپږ ملیونه پورته اټکل کېږي او مساحت یي٦۹۹٥۹ کېلومتره مربع دی. (په دي ارقامو کې یوازې قبایل راځي یعنې ښاري سیمې لکه جلال آباد، مرکزی خوست او د ګردیز ښاري سیمې چې قبایلي کرکتر نلري نه دي شاملي).

**۴۰.پوښتنه:** په افغانستان باندې مشهور یرغلونه کوم دی؟

**ځواب:** په دي اړه په افغانستان باندي د یوناني سکندر یرغل (۳۳۰ ق. م) د عربو هجوم (٦۳۲ م.) د چنګیز چپاول (۱۲۳۰ م) چې د افغانانو د پیړیو مدنیت او ښارونه یې له خاورو سره برابر کړل. په افغانستان باندي د پرنګي استعمار دري ځلې یرغل (۱۸۳۹-۱۸۷۹ او۱۹۱۹کلونه)، کورنۍ جنګونه، د شوروي امپراطوري تجاوز (۱۹۷۹) د وروستیو دریېو لسیزو کورنیو جګړو او بهرنۍ لاس وهنې چې لا تر اوسه دوام لري د یادونې وړ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴۱.پوښتنه:** په افغانستان کې د آریایانومدنیت څه وخت منځ ته راغلی دی؟

**ځواب:** تاریخ راښیي چې آریایانو له میلاد نه ۲۵۰۰ کاله د مخه ټولنیز ژوند پیل کړی دی او د آریایانو دوهم مدنیت د (۱۲۰۰ ق. م) په شا او خواکې په بلخ کې پیل شوی دی. په دي دوره کې لومړی ځل د (یما) په نامه پاچا د بلخ تاریخي ښار آباد کړ او خلك يې په کرنه او مالداری بوخت کړل. د ٦۳۰ ق. م په شا او خوا کې د زردشت آئین جاري شوی دی.نوموړی د واحد خدای په وحدانیت او بي ساري عظمت باندي قایل و او خلك يي د واحد خدای په لور وروبلل، کلیوالی او ښاري ژوند پراختیا ومونده د کار په وسایلو کې کېفي بدلون راغی، په کرنه کې په اصلاحاتو لاس پورې شو په هنر او ادبیاتو کې پرمختګونه وشول.

**۴۲.پوښتنه :** په شپاړسمه او اولسمه پیړۍ کې څو ډوله حکومتونه موجود وو؟

**ځواب:** دوه ډوله : ۱- سلطنتي،۲- جمهوري.

**۴۳.پوښتنه:** په شلمه پیړۍ کې څوډوله حکومتونه منځ ته راغلل؟

**ځواب: ۱-** اولسواک( دموکراتیک)، ۲- زورواک (استبدادي) ۳- تلواک (انحصاري).

**۴۴.پوښتنه :** دنړۍ لومړی پالمان کوم دی؟

**ځواب:** د نړۍ لومړی پارلمان په ۹۲۵ مېلادي کال کې د ایسلند په واړه هېواد کې، چې د اروپا په شمال کې پروت دی جوړ شو او تر دي وروسته ډېر لرغونی پارلمان د انګلستان پارلمان دی چې په ۱۲٦۵ مېلادي کال کې جوړ شو.

**۴۵.پوښتنه :**آزاد قبایل څوک دی؟

**ځواب:** دډیورنډ دهغې غاړې خلک چې په اوو ایجنسیوکې ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴٦.پوښتنه:** دآزادو قبائيلو د اوو ايجينسيو نومونه واخلئ او کوم قومونه پکې ميشت دی؟

**ځــــواب:**شـــمالي وزيرســـتان،جنوبي وزيرســـتان،کرمه ايجينسيـــ،خيبر ايجينسيـــ،مومند ايجينسي،باجوړ ايجينسي او اورکزی ايجينسي ؛

**شمالي وزيرستان:** احمدزی،وزير،اتمانزی،داوړ.

**جنوبي وزيرستان:** مسعود،بتنی،احمدزي،داوړ.

**کرمه ايجينسي:** توری،حمزه خيل،موسی خيل،منگل،بنگش،مقيل.

**خيبر ايجنسي:** شنيواری،افريدی،خوگا خيل،شيخ خيل،پيروخيل،مومند،اکاخيل،ظفرخيل،کوکې خيل،ساپی،گجرخيل،کمرخيل او آدم خيل.

**مومند ايجينسي:** عليزي،ترکزی،اتمرخيل،ساپی،شينواری،اتمانخيل او بنری.

**باجوړ ايجينسي:** لوی ماموند،واړه ماموند،اتمانخيل،سالارزی.

**اورکزی ايجينسي:** برامک.

**۴۷.پوښتنه:** جرگه په څو ډوله ده اود څه لپاره داريږی؟

**ځواب:** جرگه په دری ډوله ده محلي ياکليوالي،سيميزه يا منطقـوي او مـلي جرگـه د مشـکلاتو د حل لپاره داريږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴۸.پوښتنه:**آزاد قبائیل تعریف کړی او په کومو سیمو کې ژوند کوي؟

**ځواب:** آزاد قبائیل هغه چاته ویل کیږي چې خپل منځی اختلافات د دود او جرگو لـه لاری حـل او فصل کوی نه د قانون او محکمی لـه لارې چـې پـه هغـوی کـې دولتـی اداری نشـته د ډیورنـد کرښې هغی خواته میشت دی او د اوو ایجنسیو خلک د آزادو قبائیلو له جملې څخه دي.

**۴۹.پوښتنه:** قبائیلِي کارت کومو کسانو ته او د څه لپاره ورکول کیږي؟

**ځواب:** قبایلي کارت د اوو ایجنسو میشتو خلکو ته چې په پښتو خبری کـوی د دوی د مشـکلاتو د حل او پیژندگلوی په خاطر ورکول کیږي.

**۵۰.پوښتنه:** په کومه لویه جرگه کې لومړی اساسي قانون تصویب شوی دی ؟

**ځواب:** په ۱۳۰۳ه ش کال کې د افغانستان اساسي قانون د اساسي نظام نـامی پـه نـوم د غـازی امان الله خان تر مشری لانه دی د پغمان په لویه جرگه کې تصویب شو.

**۵۱.پوښتنه:** دسرحد او ډیورنډ کرښې ترمنځ توپیر څه شـی دی او ډیورنـډ کرښـه څـه وخـت پـر افغانانو وتپل شوه؟

**ځواب:** سرحد یوه منل شوی بین المللی کرښه ده او بین المللی اعتبار لـري ډیورنـډ کرښـه بـین المللی سرحد نه دی ځکه چې دا په ۱۸۹۳م کال کې د امیـر عبـدالرحمن خـان پـه دوره کـې پـه افغانانو وتپل شوه.

**۵۲.پوښتنه:** سرحد تعریف کړی او افغانستان د کومو هیوادونـو سره پولـه لـري او د هـر هیـواد سره څومره اوږدوالی لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:**سرحد د هیوادونو تر منځ یو منل شوی کرښه ده چې بین المللی اعتبار لري او افغانستان د لاندې هیوادونو سره ګډې پولې لري:

۱. تاجکستان ۱۳٦۰ کیلومتره ۲. ازبکستان ۱۴٦ کیلومتره ۳.ترکمنستان ۸۷۴ کیلومتره ۴.ایران ۹۲٦ کیلومتره ۵. پاکستان فرضي خط ۲۳۱۰ کیلومتره ٦. جمووکشمیر ۱۰۲ کیلومتره ۷. چېن سره د پامیرخط ۹۰ کیلومتره شمال شرق چېن ۹٦ کیلومتره.

**۵۳. پوښتنه:** د ډیورنډ فرضي کرښه څو کیلومترهه اوږدوالی لري څه وخت او د افغانستان پر کوم حاکم باندې ومنل شوه؟

**ځواب:** د ډیورنډ کرښه ۲۳۱۰ کیلومتره اوږدوالی لري او په ۱۸۹۳م کال کې په امیر عبدالرحمن باندې په زور وتپل شوه اودکابل په چهلستون کې پرې لاسلیک شوه ، انګرېزانو د دغه تړون د لاسلیکولو مقابل کې هر کال امیر ته یو میلیون او ۸۰۰ زره هندی روپۍ ورکولو ژمنه وکړه.

**۵۴.پوښتنه:** په ۱۳۰۳ ه ش کال کې په کوم ځای کې دچاپه مشرئ جرګه وشوه اوڅه موخې یې درلودې؟

**ځواب :** په ۱۳۰۳ ه ش کال کې په پغمان کې د اساسي نظامنامې د تصویب په خاطردغازي امان الله خان ترمشرئ لاندې جرګه جوړه شوه.چې په ۱۳۰۱ ه ش کال کې په جلال آباد کې دیوې جرګې په ترڅ کې پرې بحث شوی ؤ.

**۵۵.پوښتنه:** په ۱۳۰۷ ه ش کال کې دکابل په پغمان کې دامان الله خان ترمشرئ لاندې لویه جرګه دڅه لپاره جوړه شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:** دا جرگه دامان الله خان ترمشرئ لاندې جوړه شوه چې له ۱۵۰ غړو د ملي شورا جوړېدل، د عسکري خدمت اجباري کېدل او د حجاب لیرې کول یې موخې وې.

**۵٦.پوښتنه:** په ۱۳۴۳ ه ش کال کې دمحمدظاهر شاه په وخت کې لویه جرگه دڅه لپاره جوړه شوه؟

**ځواب:** ددیموکراتیک گوند اساسي قانون یې تصویب کړ او شاه د اصلاحاتو په راوړلو سره ترونه او تره زامن عملاً له واکه لرې کړل، ځکه چې په هغه وخت کې مهم دولتي پوستونه او رښتیني قدرت د هغوی په لاس کې و.د اساسي قانون د مصوبې له مخې دغه لویه جرگه کې، په حکومتي ادارو او سیاسي برخو کې د شاهي کورنۍ قدرت منع او پر ځای د وزیرانو ټاکل پارلمان ته پرېښودل شول. د قواو بېلتون ، د رسنیو ازادي، د سیاسي ډلو او د حقونو برابري په دغه قانون کې ځای پر ځای شوي وو.

**۵۷.پوښتنه :** اضطراري لویه جرگه په کوم کال او دڅه لپاره جوړه شوه؟

**ځواب:** داجرگه په ۱۳۸۱ ه ش کال کې په کابل کې جوړه شوه چې مشرېې اسماعیل قاسمیارؤ او ۱۵۱۵ تنو پکې گډون درلود او حامدکرزی پکې دلنډمهاله حکومت مشروټاکل شو، دغه لویه جرگه د بن جلسو د تصمیم پر اساس د ۲۰۰۱ میلادي کال په سپټمبر میاشت کې د ملگرو ملتونو تر نظر لاندې تر سره شوه او پایله یې دا شوه چې په افغانستان کې موقت دولت رامنځ ته شو، لویه اضطراري جرگه د لومړي ځل لپاره د یوولس سلنه مېرمنو د گډون شاهده هم وه چې رایه یې وکاروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۵۸.پوښتنه :** دحامدکرزي دحکومت پرمهال په ۱۳۸۲ ه ش کال کې لويه جرګه دڅه لپاره جوړه شوه ؟

**ځواب :** دالويه جرګه چې آتم اساسي قانون پکې تصويب شو ،۵۰۰ تنه غړي يې درلودل،مشرې يې صبغت الله مجددی کوله دغه جرګه هم د بن جلسو د مصوبی له مخې د ۲۰۰۱ کال په سپټامبر مياشت کې تر شوه او د اساسي قانون مسوده جوړه شوه.دا قانون د افغانستان د ښو قوانينو له ډلې څخه شميرل کيږي.

---

**۵۹.پوښتنه :** دحامدکرزی دحکومت پرمهال دسولې مشورتي لويه جرګه دڅه شی لپاره جوړه شوه ؟

**ځواب :** دا جرګه چې دسولې دمشورتي جرګې په نامه يادېږي د غبرګولی ۱۳۸۹ هش - جون ۲۰۱۰ ز- کابل کې جوړه شوه ۱۶۰۰ غړي يې درلودل اومشريې برهان الدين ربانی ؤ اودحامدکرزي دحکومت دسولې پروګرام پکې تائيد شوکه څه هم يو شمېر منتقدينو د ښاغلي کرزي له لوري دغه جرګه فرمايشي او غير قانوني ياده کړه، خو کرزي د هغوی وړانديزونه ومنل او عملي يې کړل ،ښاغلی کرزي د دغو وړانديزونو په لړ کې ګڼ طالب بنديان خوشي کړل او د برهان الدين رباني په مشرۍ يې د سولې عالي شورا جوړه کړه.

**۶۰.پوښتنه :** دحامدکرزي دحکومت پرمهال دريمه مشورتي جرګه دڅه شي لپاره جوړه شوه ؟

**ځواب :** دغه جرګه چې په ۲۵ لړم، ۱۳۹۰ ه ش (۲۰۱۰ز) - کال کې دصبغت الله مجددي ترمشرۍ لاندې تر۲۰۰۰ تنو ډيرو ګډونوالو په ګډون سره په کابل کې له امريکا سره د امنيتي تړون لاسليکولو په اړه جوړه شوه، دې دوديزې مشورتي لويې جرګې د ۷۶ مادو په يوه پرېکړه ليک کې د افغانستان او امريکا ترمنځ د ستراتيژيک تړون ملاتړ وکړ.او دحامدکرزي لخوا ونه منل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**٦١.پوښتنه:** لويه جرگه کومې جرگې ته ويل کيږي؟

**ځواب :** لويه جرگه هغه جرگې ته وايې چې د هيواد خپلواکې،ملي حاکميت،ځمکنی بشپړتيا او سترومصلحتونو پوری مربوطو چارو په باب تصميم نيول او د هيواد د ملي گټو په خاطر جوړيږي.لويه جرگه کې د ملي شورا غړي اود ولايتي شوراگانو رئيسان ، وزيران د سترې محکمی رئيس او غړي او لوی څارنوال کولی شی چې د لويې جرگې په غونډو کې له دی پرته چې د رايې ورکولو حق ولري گډون وکړي.

**٦٢.پوښتنه:** خيبر ايجينسي د هيواد د کومو ولايتونو سره نښليدلې ده؟

**ځواب :** د ننگرهار ولايت سره.

**٦٣.پوښتنه:** محلياکليوالي ،منطقوي ياسيميزې او ملي جرگې کومې جرگې دي؟

**ځواب : محلي ياکليوالي جرگې:** هغه جرگې دی چې د کليو او بانډو کې د هرکلي ياباندې د کلتور او رواجونو تر فرهنگ لاندې دايريږي .

**منطقوي ياسيميزې جرگې:** د هيواد ملي،سياسی او اجتماعی مسايلو د حل او فصل لپاره ديوې سيمې يامنطقې په سطحه دايريږي او په ملي مسايلو کې مهم رول نشي لوبولی.

**ملي جرگې:** د هيواد ملي،سياسی او اجتماعی مسايلو د حل او فصل لپاره دايريږي اوپايلې يې د يوه نسل څخه بل نسل ته پاتې کيږي.

**٦۴.پوښتنه:** آزاد قبائيل څو ايجينسي دی او د هيواد د کومو ولايتونو سره نښليدلی دی ؟

**ځواب:** آزاد قبائيل اوه ايجينسي لري چې د هغوی له جملې څخه :

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د باجوړايجينسي:** د نورستان،بدخشان او کنړ ولايتونو سره نښليدلې ده ؛

**مومند ايجينسي:** د کنړ او ننگرهار ولايتونو سره نښليدلې ده؛

**خيبر ايجينسي :** د ننگرهار ولايت سره ؛

**کرمه ايجينسي:** د لوگر،پکتيا او پکتيکا ولايتونو سره ؛

**شمالي وزيرستان:** د خوست او پکتيکا سره ؛

**اوجنوبي وزيرستان:** د پکتيکا سره نښليدلې دی ؛

**٦٥.پوښتنه:** د کندهار لويه اوتاريخي جرگه په کوم کال او په کوم ځای کې د څه شي لپاره دايره شوه؟

**ځواب :** د کندهار لويه جرگه په ١١٢٦ ه ش مطابق د١٧٤٧ م کال کې د نادر افشار له وژنې وروسته دکندهار دشيرسرخ بابا په زيارت کې د نادراباد په پوځي کلا کې دايره شوه چې دغه جرگې ۹ ورځې دوام وکړ او په پای کې د خلکو استازو له زياتو خبرو اترو وروسته احمدشاه بابا ابدالی د افغانستان د پاچا په توگه وټاکل شو.

**٦٦.پوښتنه:** ددويمې نړيوالې جگړې پرمهال په افغانستان کې لويه جرگه په کوم کال اود کوم شاه په وخت کې او د څه لپاره دايره شوه؟

**ځواب:** په دويمه نړيواله جگړه کې لويه جرگه د محمد ظاهر شاه په وخت کې په ١٣٢٠ ه ش – مطابق د١٩٤١م کې جوړه شوه او دوې ورځې يې دوام وکړ،٨٠٠ تنو پکې برخه اخيستې وه اوافغانستان خپله بی طرفي اعلان کړه، ددې جرگې مشري داعليحضرت محمدظاهرشاه تره او دوخت صدراعظم محمدهاشم خان په غاړه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**٦٧.پوښتنه:** په ۱۳۰۹ه ش کال چې د نادر خان دسلطنت په دوران کې لویه جرگه دایره شوی وه شمیر یې څو کسانوته رسیده او په کومو موضوعاتو باندې موافقه وشوه؟

**ځواب:** په دې جرگه کې (۳۰۱) تنو گډون کړی وو چې په دی جرگه کې د ملي شورا د تاکنو لایحه د وکیلانو شمیر او د هغوی د کار دځرنگوالی ، د بیرغ رنگ او یو لړ نور مسایل تر بحث لاندې ونیول شول.

**٦٨.پوښتنه:** د کندوز ولایت سرحدی ولسوالیو نومونه واخلئ او کوم قومونه پکې اوسیږي؟

**ځواب:** دشت ارچې،امام صاحب، قلعه ذال،چهار دره اوعلی آباد.

میشت قومونه یې: ازبک،ترکمن،تاجک، سلیمان خیل،احمدزی، خروټې ،ناصراوشینواری دي.

**٦٩.پوښتنه:** شخړه (منازعه) څه ته وایې تعریف یې کړی او په کومو لارو حل کیږي؟

**ځواب:** هر هغه خپلمنځی اختلافات چې په تاوتریخوالی او نښتو بدل شی شخړه ورته ویل کیږي، شخړه د جرگو،مرکو او علماوو،مشرانو،متنفذینو او روحانینو په وسیله حل کېدای شي .

**٧٠.پوښتنه:** بیړنۍ لویه جرگه په کومو حالاتوکې دایریږي؟

**ځواب:** کله بهرنی یرغل او تېری، کله کورنۍ شخړې او جنگونه، کله د قدرت تشه او کله د قانون جوړولو او د نړیوالو او ملي پېښو په وړاندې د تصمیم نیولو له مخې لویه جرگه راغوښتل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۷۱.پوښتنه:** متنفذین کومو کسانو ته ویل کیږي او په قومونو کې څه حیثیت لري؟

**ځواب:** متنفذین هغه کسانو ته ویل کیږي چې په قومونو او ولسونو کې ښه نفوذ او اعتبار ولري چې په خلکو کې منل شوی کسان وي.

**۷۲. پوښتنه:** د ډیورنډ فرضي کرښې اوږدوالی څو کیلومترهه دی اود کوم ځای څخه پیل او چېرته ختمیږی؟

**ځواب:** ډیورنډ فرضي کرښه (۲۳۱۰)کیلومترهه اوږدوالی لري د چترال څخه شروع د ملک سیاه تر غره پوری رسیدلی ده.

**۷۳.پوښتنه:** د قومي مشردنده څه شی ده ؟

**ځواب :** د خلکو تر منځ د شخړو او جنجالونو له منځه وړل،د خلکو ستونزی دولتی مقاماتو ته رسول،د خلکو تر منځ تاوتریخوالی د تفاهم ،توافق او مهارت له لاری په دوستی او سازش سره بدلول.

**۷۴.پوښتنه:** علماء او روحانیون په جرگه کې څه رول لري؟

**ځواب:** څرنگه چې زمونږ هیواد ټول وگړي مسلمان دی په دین،مذهب او عقیده کلک ولاړ دی نود علماوو او روحانینو په خبر ډیر باور لري نو ځکه په جرگو کې د دوی گډون ډیر مهم دی .

**۷۵.پوښتنه :** آزاد قبائیل څه وخت او څنگه رامنځ ته شول؟

**ځواب :** آزادقبایل په ۱۸۸۵ م کال کې منځ ته راغلل....

**۷۶.پوښتنه:** خان عبدالغفار خان څوک او په کوم کال کې پیدا شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب :**خان عبدالغفارخان دعدم تشدد مفکورې بنسټګر دبهرام خان زوی چې په ۱۸۹۰ م کال کې دمرکزي پښتونستان (پېښور) دهشنغر سیمې د اتمانزو په کلي کې زېږیدلی دی اوتر۱۹۸۸ م کال پورې یې ژوند کړی دی .خان عبدالغفارخان ته په ۱۹۱۹ م کال کې دیوې لوېې غونډې په ترڅ کې دپاچاخان لقب ورکړل شواودیوه ملي مشراورهبرپه توګه ومنل شو. خان عبدالغفار خان دترنګزو دحاجی فضل واحدتړارن کاکړ په مرسته یې داستعمار پرضد دافغانانو په ویښولو کې ډیرې هلې ځلې کړې دي اوپه ۱۹۲۰م کال کې یې  کابل ته هجرت وکړ اودبیرته تګ په وخت کې یې  دانجمن اصلاح الافاغنه ټولنه جوړه کړه ، نوموړی ته په ۱۹۲٦ م کال کې دپښتونستان دخلکو لخوا دیوې شانداره غونډې په ترڅ کې دفخرافغان لقب هم ورکړ شو او په ۱۹۲۹م  کال کې یې دخدايي خدمتګارحزب جوړ کړ اودپښتونستان مجله یې چاپ کړه ، او دهند نوموتي سیاستوال مهماتاګاندی سره یو ځای یې دانګریزانو په ضد مبارزه پیل کړه ،نوموړي دپښتونستان دخپلواکۍ لپاره بې شمیره مبارزې کړې دي چې څوځو ځله دپرنګیانو لخوا جیلونوته اچول شوی او خوشي شوی دی(۳۹ کاله یې په بندیخانوکې تیرکړي دی). کله چې په ۱۹۴۷ م کال کې پاکستان منځ ته راغی داسې پوښتنه تري وشوه چې هندوستان غواړئ که پاکستان ؟ دهغه ځواب داؤ چې  دیوې غلامۍ نه بلې غلامۍ ته تګ مرګ دی ، نه پاکستان غواړو نه هندوستان مونږ پښتونستان غواړو.

**۷۷. پوښتنه :** دپښتون ژغورنې غورځنګ چیرته اوځنګه منځ ته راغی؟

**ځواب:** د پښتون ژغورنې غورځنګ د ۲۰۱۸میلادي کال دفیبروري په لومړۍ نیټه له دیره اسماعیل خان څخه پیل او په شراني ،ږوب،کلاسیف الله،مسلم باغ او کویټه کې دلویو لویو غونډو څخه وروسته دمنظور احمدپښتین په مشرۍ منځ ته راغی .ددې غورځنګ لوېې غوښتنې داوې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ✓ دنقیب الله مسید وژونکي باید ونیول شي او په خپله سزا ورسیږي.
- ✓ په وزیرستان کې دځښ شویو ماینونو پاکول.
- ✓ دتری تم شویو پښتنو راخوشي کول.
- ✓ دپښتنو نه ځورول.
- ✓ دپښتنو پروړاندې دبې عدالیتیو له منځه وړل.

۷۸.**پوښتنه:** دپښتون ژغورنې غورځنګ دلومړنیو شهیدانو نمونه کوم دي؟

**ځواب:** نقیب الله مسید،ارمان لوڼی،طاهرخان داوړ اوداسې نور...

**پوښتنه :** دپښتون ژغورنې غورځنګ دلومړۍ مبارزې ښځې کومې دي؟

**ځواب:** آیینه درخانی، ګلالۍ خان، زیبا وزیري....

۷۹.**پوښتنه :** منظوراحمد پښتین څوک دی؟

**ځواب:** منظور احمد پښتین د عبدالودود مسید زوی دی چې په ۱۹۹۲م کال کې د جنوبي وزیرستان دمولاخان په سرای کې په یوه غریبه او عزتمنده کورنۍ کې زیږیدلی دی ،لومړنۍ زده کړې یې دخپل پلارڅخه وکړې چې دښوونکي دنده یې درلوده او دښوونځۍ دوره یې دخپل کلي په ښوونځی کې بشپړه کړه او ترهغې وروسته یې د دیره اسماعیل خان دګومل پوهنتون څخه د څارویو د طب سند ترلاسه کړ،خوداچې په قبایلي سیموکې پرپښتنو دپاکستاني پوځ ظلمونه یې لیدلي اوګاللي نو دایې خپله دنده وبلله چې له دې بې رحمانه ظلمونو څخه به دخلاصون لپاره مبارزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۸۰.پوښتنه:** فټا یعنی څه ؟

**ځواب :** فاټاهغه قبیلوي فدرالي منطقه ای  قوانین دی چې دانګریزانو لخوا جوړشوی دی او آزاد قبایل یې په خپلوسیمو کې دعامه نظم لپاره تطبیقوي.

**۸۱.پوښتنه:** قبایل څوایجینسي دي نومونه یې واخلئ ، د سوبې او ایجنسۍ تر منځ توپیرڅه دی واضح یې کړئ **؟**

**ځواب :**  قبایل اوه ایجنسۍ دي : خیبر ایجنسي ، شمالي وزیرستان ، سویلي وزیرستان ، کرمه ایجنسي ، باجوړ ایجنسي ، مومند ایجنسي او اورکزي اجنسي ؛

د سوبې او ایجنسۍ تر منځ فرق دا دی:  چې په سوبه کې د پاکستان نافذه قوانین پلې کېږي او په ایجنسو کې د فاټا قانون چې د قبیلوي فدرالي منطقوي قانون په معنی سره دی او د انګریزانو له خوا توشیح شوی دی پلي کېږي

**۸۲.پوښتنه :** په اورکزیو ایجنسۍ کې کوم قومونه میشت دي نومونه یې واخلئ ؟

**ځواب:** برامد خیل ، مشتي ، شیخان ، علي خیل ، ملي خیل ، مموزئې ، آخیل ، روپیه خیل او فیروز خیل قومونه میشت دي.

**۸۳.پوښتنه :** په شمالي پښتون خوا او جنوبي پښتونخوا کې کوم قومونه میشت دي نومونه یې واخلئ ؟

**ځواب:** په شمالي پښتونخواکې د یوسفزي ، خلیل ،مومند ، اوخټک قومونه میشت دي .

او په جنوبي پښتونخوا کې د کاکړ ، اڅکزي ، نورزي او بلوڅو قومونه میشت دی.

**۸۴.پوښتنه :** د سر حدونو او قبائیلو چارو وزارت موخې څه شی دی و یې لیکئ ؟

**ځواب:** ملي یو والی ، د سرحدونو ساتنه ، ټولنیز عدالت او متوازنه پرمختیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۸۵.پوښتنه :** آزاد قبائيل تعريف کړئ ؟

**ځواب:** آزاد قبائيل هغه چا ته ويل کېږي چې  د ډيو رنډ کرښې هغه خوا تـه ميشـت دي ، خپـل منځې ستونزي د جرګو او مرکو له لارې هواروي ، دولتي محکمې او د دولـت اداري هلتـه شـتون نه لري.

**۸۶. پوښتنه :** په کرمه ايجنسۍ کې کوم قومونه ميشت دي نومونه يې واخلئ ؟

**ځواب:** په کرمه ايجنسۍ کې : توری ، حمزه خيل ، موسی خيل ، منګل ، بنګش او مقبل قومونـه ميشت دي .

**۸۷.پوښتنه:** جرګه تعريف کړئ ؟

**ځواب:** جرګه د ولس هغه اراده ده چې په بحراني حالاتو کې د شخړو او ستوزو د حـل پـه موخـه دايريږي او تر اوسه د يوه رسمي او ملي دود له مخې په هيواد کې پاتې ده.

**۸۸.پوښتنه :** د سبها او سمتي جرګي د اوسنيو کومو جرګو پـه بڼـه وې ، د جرګـي نـوم يـې کلـه واخيستو او جرګه د کومي ژبي کليمه ده ؟

**ځواب:** د سبها او سمتي جرګي د آريايانو لومړنۍ جرګې وي چي د يـما پادشـاه پـه وخـت کـې د ستونزو د حل په خاطر جوړي شوي وي په ويدي متونو کي د آريايـانو د ډيـر واک لرونکـي جرګـه سبها او دوهم مقام لرونکي جرګه سمتي په نوم ياده شوي ، سبها چې د ويـدي پـه سرودونـو کـي يي يادونه شوي ده د اوسنۍ ولسي جرګي صلاحيتونه او سمتی بيا د مشرانو د جرګـي دنـدي در لودي ، او د جرګي کليمه د ترکي ژبي څخـه اخيسـتل شـوي ده او د سـلطان محمـود غزنـوي پـه وخت کي يې د جرګي نوم غوره کړو.

**۸۹.پوښتنه :** د جرګي او مرکي تر منځ فرق څه شی دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب :** مرکه مشورتی بنه لري معمولاً واړه مسائل پکې حل او فصل کيږي او په ملي مسايلو کې مهم رول نه شي لوبولی او جرگه د هيواد ملي ، سيا سي او ټولنيز مسايل حل او فصل کوي او له يو نسل څخه بل نسل ته پاتي کيدا ی شي.

**۹۰.پوښتنه :** نرخ تعربف کړئ او کوم نرخونه ډير مروج دي؟

**ځواب :** نرخ د معنی له مخې لـه قيمـت څخـه اخيسـتل شـوی ، او د سـپينو ځـدراڼو څخـه يـې سرچينه اخيستی ده ، د نرخ تعريف : نرخ هغه منلی حقيقت دي چې د قومي جرگـو پـه ذريعـه منځ ته راغلئ او هيڅوک ور څخـه سـترگي نـه شي پټـولئ .د کـومې خـاصي موضـوع پـه اړه چـې نرخيان کومه فيصله و کړي او دغه فيصله په خپل ذات کي نـوي او ځـانگړي فيصـله وي نـو دې ته ځلی او نرخ وايي ، او بيا چې تر دي ورسته دغه شان موضوعات پيښيږي نو د هماغـه پخـواني ځلی او نرخ له مخي پرې چلند کيږي . او مروج نرخونه په افغانستان کې د لويي پکتيا دي ، چې د ځدراڼو ، منگلو او احمدزيو نرخونه يې ډير مروج دي .

**۹۱.پوښتنه:** د دندي بنسټيزه موخه مو څه ده و يې ليکئ ؟

**ځواب:** دلته تاسو کولای شئ د دندې دلايحې مطابق خپل اهداف وليکئ.

**۹۲. پوښتنه :** په کرمه ايجنسۍ کې کوم قومونه ميشت دي نومونه يې واخلئ ؟

**ځواب:** په کرمه ايجنسۍ کې توری ، حمزه خيل ، موسی خيل ، منگـل ، بـنگش او مقبـل قومونـه ميشت دي.

**۹۳.پوښتنه :**الحاج ميرزا علي خان(فقيرايپي) څوک ؤ؟

**ځواب :** الحاج ميرزا علی خان  چې په ايپی مشهور وو د ارسلاخان زوی او د محمد باز لمسـۍ د زيږيدو کره نيټـه يـې معلومـه نـه ده او د ۱۸۹۲-۱۸۹۷ کلونـو تـر مـنځ پـه شـمالي وزيرسـتان کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library


زیږیدلی دی او په دیني علومو کي یي زدکړي کړي دي او د انګلیس په وړاندي یې په علني مبارزه پیل و کړ لومړی یې د خپل وطن او او بیا یې د هندوستان د آزادی لپاره خپل مجاهدت شروع کړ، د شاه امان الله خان په وړاندي د اغتشاشاتو د مخ نیوي په خاطر تر پکتیا راغی خو؛ د ناروغی له کبله بیرته ستون شو، وروسته له هغه یې د کوزي پښتونخوا د نورو مبارزینو مشرانو سره انګریزان په میرانشاه ، وانه او باجوړ کې ډیر ستړي کړل انګریزانو د کاذب سیاست له مخې د سولي لاره خپله کړه او هغه هندوه چې په ۱۹۳٦ زکال کي چې (چند بي بی ) نومیده د یومسلمان ښونکي سره واده و کړ او مسلمانه شوه نو د وخت محکمي د انګریزانو په مټ اسلام دا بی بی هندوانو ته تسلیم کړه همدا وو چې د خټکو، مروتو ،مسعودو او وزیرو احساسات را و پاریدل او د ایپی فقیر تر مشري لاندي یي په مبارزه شروع و کړه نو؛ انګریزانو د ټول قوت په استعمال سره کوښښ و کړ چې فقیر ایپی ونیسي خو و نه توانیدل ، په ۱۹۴۱ کال کي د هند د کانګرئیس پخواني رئیس سوبهاس چندارا بوس جرمنی ته طرحه وړاندې کړه تر څو جرمني خپل روزونکي او د تبلیغاتو په برخه کي له فقیر ایپی سره مرسته و کړي موسلینی هم د فقیر ایپی سره د اړیکو اعلان وکړ چي ایټالیا له ایپی فقیر سره اړیکي ټینګي کړي ایټالیا او جرمني له فقیر ایپی سره مالي مرستي شروع کړي ۱۹۴۱ د جون په میاشت کي یي ۳۰۰ زره افغانی ور کړي او د مارچ په میاشت کي یي ۳۰۰ زره هندي کلداري د دوه ایټالویانو په لاس ور کړي د وزیر هاشم خان ځانګړي ډاکټر او د جرمني کورټ بریکمن یي د اړیکو مسول وه وروسته د ده هڅی ځکه ناکامي شوي چې د ایپی فقیر په آدرس به هر چا د پیسو غوښتنه کوله، د فقیر ایپی او پا چاخان مبارزه د یو هدف لپاره وه ایپي فقیر د ټوپک په زور مبارزه کوله او پاچا خان د قلم په زور د خپلواکی په لټه کې وو په ۱۹۴۷ کال کې کله چې د انګریزانو میراثي حکومت پاکستان ته وسپارل شوو نو؛ فقیر ایپې د پښتونستان اعلان و کړ،او خپله ولسمشر شوو ، خو د پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاسپوڅي حکومت په ۱۹۴۸ کال کې په فقیر ایپي باندي هوایي بریدونه کول خو د ژوند تر اخره تسلیم نه شوو ایپي فقیر په ۱۹٦۰ کال کي و مړ.

**۹۴.پوښتنه :** د بنو د لویي جرګې په هکله څه پریکړه و شوه ، او د جلال آباد د هده لویه تاریخي جرګه څه وخت اود څه شی لپاره جوړه شوه ؟

**ځواب:** په ۱۹۴۷ز کال د جون په ۲۱ نیټه په بنو کي لویه جرګه جوړه شوه ، په دغه لویه جرګه کي د پښتنو د برخلیک په اړه څرګنده پریکړه و شوه . پښتنو د خپل آزاد حکومت فیصله و کړه پښتانه نه پاکستان غواړي او نه هندوستان ، په دي جرګه کې د پښتنو سیاسونو ، ځوانانو او قومي مشرانو ګډون در لود او د خان امیرخان د صدارت لاندي و شوه خان پا چا خان هم په دي جرګه کي موجود وو او دا فیصله یي و کړه چې په دي ملک کې دې د ټولو پښتنو یو آزاد حکومت جوړ شي ،چې د هغي بنسټ به په اسلامي اصولو او جمهوریت مساوات او ولسي انصاف باندي ولاړ وي ، او دا جرګه له هر پښتون نه غوښتنه کو ي چې په یو واحد مرکز باندي را ټول شي او دبل چا اقتدار ته سر ټیټ نه کړي.

د جلال آباد د هده لویه جرګه د شاه امان الله خان په غوښتنه د میر زمان خان کونړی په مرسته ، او د جرګې مشري د محمد نادرخان په غاړه وه د جنوري په ۳۱ په ۱۹۲۰ز کال کي جوړه شوه ، په جرګه کې د کنړ ، جلال آباد ، لغمان او د سرحد د دواړو خواوو مشرانو ، مشایخو ، علماوو او متنفذینو پکي ګډون درلود ، د جرګې هدف ، د ډیورنډ د واړو خواوو قبائیلو او قومونو ترمنځ یو والي ، د آزادۍ څخه دفاع او د هیواد د آبادول وو ، تر ټولو مهمه دا چې انګریزانو ته اخطار ورکړل شوو تر څو په هیواد او د ډیورنډ د کرښي دواړو خواوو کي د مداخلی نه لاس په سر شي کنه د قومونو او قبائیلو له سخت غبرګون سره به مخ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۹۵.پوښتنه :** د سوات پاچاهي کله جوړه شوه او کله له منځه لاړه او پاچاهان يي څوک وو ؟

**ځواب:** د تاريخ په اوږدو کي سوات د ګنداهارا يو مهم ټاټوبی بلل شوی ، ريګويدا کتاب سوات د سواستو په نامه ياد کړئ ، د وخت په تيريدو سره دغه نوم په ادهيانه چې د (ګلونو د ښار ) په معنی ده ياد شوئ او د معلوماتو له مخي د سوات لمړنۍ پاچا ملکه بازيره ده ۱۸۸۵ شا اوخوا کي د سرتور فقير تر مشرئ لاندي يو خونړئ جنګ و شوو ، له دي وروسته د سوات پاچا سيد عبدالجبارشاه و ټاکل شوو انګريزانو د وخت د ملايانو په استفاده په سيد عبدالجبارشاه باندي د کفر فتوی ورکړه او خلک د ده په ضد را و پاريدل همدا وو چې سيد عبدالجباره شاه پاچاهې پريښوده ، له ده وروسته ميا عبدالودود په ټول سوات کې و ګر ځيدو پاچاهي يي جوړه کړه او له ده وروسته د ده زوی مياګل جهانزيب د سوات پاچا شوو په ۱۹٦۹ ز کال کي انګريزان په دي و توانيدل چې سوات د پاکستان سره يو ځای کړي.

**۹٦.پوښتنه :** د جنوب له خوا د خپلواکۍ جګړه په کوم کال کې و شوه او افغان ځواکونو تر کومه ځايه پر مخ لاړل، او د چترال د جبهې قومندان څوک وو او دې جګړي څومره دوام و کړ او پايله يي څه وه ؟

**ځواب :** د جنوب له خوا د خپلواکۍ جګړه په ۱۹۱۹ کال کي د مې په ٢٦ د محمد نادرخان تر مشری لاندي د لسو زرو ملي لښکر سره چې د خوست قومونه وزير ، ځاځی ، منګل ، توتاخيل ، احمزي خروټې او د لويي پکتيا نور قومونه هم ور سره ملګري وو په ناڅاپي تو ګه شروع شوه افغان ملي ځواک د ټل تر قلعي پوري و رسيدل او د ټل په قلعه يي د افغانستان بيرغ ورپولو د لاري په اوږدو کي ببرک خان ځدراڼ په شهادت و رسيدو او په ۲۸ د مې د انګليس هوايې ځواکونو په بماری شروع و کړه چي په دي بمبارئ کي احمد جان خان هم شهيد شوو خو افغان ملي ځواک خپلهمت له لاسه ور نه کړاود دښمن تغذيه خونی ، د تيلو زخيرو او د ريل ستېشن

(c) ketabton.com: The Digital Library


يي تر اور لاندي و نيول ، او انګريزانو ته يي ډير مالی او ځاني زيان و رسولو انګريزانو د تسليمۍ بيرغ پورته کړ خو؛ افغان ملي ځواک د کوهاټ ، پيښور او نور مخ ته تګ په تکل کي وو خو دا سي و نه شول، مرکزی حکومت پرته له کومې صلاح او مشورې خپلو ځواکونو ته د تخليي امر و کړو .

د چترال د جبهې قومندان ميرزمان خان وو ، جګړه د ۱۹۱۹ د جون د ۲۳ څخه شروع اود ۱۹۱۹د اګست تر ۸ نيټې پوري يې دوام وکړ او پايله يي دا وه چي انګريزانو ته د چترال په جبهه کي ډير مالي او ځاني زيانونه ورسيدل او ۱۹۱۹ د اګست په ۸ انګريزان دی ته اړ شول تر څو مرکزی حکومت ته د سولی وړانديز و کړي مرکزی حکومت هم د خپلو فوځونو ته د جنګ نه د لاس په سر کيدو امر و کړو، خو د ۱۹۲۲ ز کال د جنوري تر ۱۷ نيټې پوری د ارنوۍ او دوکلام منطقي د افغان ځواکونو تر تصرف لاندي وي.

**۹۷.پوښتنه:** دسرحدونو اوقبايلوچارو وزارت څومجلې اوجريدې لري نومونه يې واخلئ؟

**ځواب:**دری مجلې لري: جرګه،هموطن اوجانښ.

دری جريدې لري: جريده تارا، ګوراش او يولدوز.

**۹۸.پوښتنه:** دسرحدونو اوقبايلوچارو وزارت نشريې په لنډه توګه معرفي کړئ؟

---

**ځواب: مجلهٔ جرګه:** اين مجله به حيث اولين ارګان نشراتی وزارت در سال ۱۳۶۱ هـ ش تاسيس و فعلاً در ۱۰۰ صفحه به تيراژ ۳۰۰۰ نسخه به خاطر آګاهی مردم از اهداف دولت و به طور خاص برای مردم قبايل و ساختارهای سياسی مدنی که از فکر ملی مشترک مردم افغانستان و جغرافيای تاريخی حمايت می نمايد، به شکل دوماه‌نامه به نشر ميرسد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**مجله جاش:** این مجله از سال ۱۳۷۰ هـ ش به این طرف به زبانهـای، نورسـتانی، دری و پشـتو بـه تیراژ۱۰۰۰ نسخه در ۱۰۰ صفحه بر علاوه انعکاس فعالیت های دولـت و وزارت، مقـالات حقیقـاتی درمورد نورستان باستانی به نشر میرساند، که در دو ماه یکبار چاپ میشود.

**مجله هموطن:** مجله هموطن ارگان نشراتی وزارت امـور سرحـدات و قبایـل بـه دیـزاین خـوب و رنگه به ۹ زبان محلی و رسمي دولت پشتو، دری، ازبکی، ترکمنی، بلـوچی، پشـه یـی، نورسـتانی، گواری، گجری و پامیری به تیراژ ۲۰۰۰ نسخه به صورت رنگه در ۱۰۰ صفحه مسایل علمی، ادبـی، فرهنگی، سیاسی و آموزشی را به خاطر روشن ساختن اذهان هموطنان ما به نشر میرسد.

**جریده تارا:** این جریده در سـال ۱۳۷۰ تاسـیس ودرجوکـات وزارت امورسرحـدات وقبایـل جهـت غنامندی فرهنگی قوم پشه ئی به تیراژ ۵۰۰ نسخه دریک ماه اقبال چاپ می یابد.

**جریده گوراش:** که در سال ۱۳۵۷ هـ ش به نشرات آغـاز نمـود در شـهر زیبـای شـبرغان ولایـت جوزجان تحت نظر واحد اداری دومی وزارت به زبـان ازبیکـی و دری غـرض خـدمت بـه زبـان و فرهنگ مردم و تأمین وحدت ملی بر طبق پالیسی های نشراتی دولت ج.ا.ا به تیراژ ۱۰۰۰ نسـخه به صورت ماهنامه نشرات مینماید.

**۹۹.پوښتنه:**د سرحدونو اوقبايلوچارو وزارت څوليسې اوانستيتيوتونه لري؟

**ځـواب:**د سرحــدونو اوقبايلوچــارو وزارت پنځــه ليســې لــري چــې نومونــه يــې دادي: رحــمان بابا،خوشحال خان،پيرمحمدکاکړچې دادری واړه ليسې په کابل کې موقعيـت لري.همدارنگـه پـه کندهار ولايت کې دعبدالله خان اڅکزي په نوم يوه ليسه لري او په ننگرهارکې دپښتونسـتان پـه نوم يوه ليسه لري اوهمدارنگه يوه ليسه په خوسـت کـې دقبـايلو پـه نـوم هـم يـوه ليسـه لري.پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدې ترتيب دسرحدونو اوقبايلوچارو وزارت دبايزيد روښان په نوم په کابل کې يوکثيرالرشتوي انستيتيوت هم لري.

**۱۰۰.پوښتنه:** دسرحدونو اوقبايلوچارو وزارت تاريخچه په لنډه توگه بيان کړئ؟

---

**ځواب:**

- در سال ۱۳۰۰ هـ ش مطابق به ۱۹۲۱ میلادی یک شعبۀ ویژه در چارچوب دولت شاهی زمان شاه امان الله خان ایجاد گردید که از امور قبایلی و مرزی رسیده‌گی مینمود. مشابه چنین شعبه در زمان امیر شیر علی خان و عبدالرحمن خان نیز وجود داشت. این شعبه در سال ۱۳۰۹ هـ ش در زمان سلطنت اعلیحضرت شهید محمد نادر خان در چوکات وزارت حربیه به ریاست قبایل ارتقاء نموده بود.
- در سال ۱۳۲٦ هـ ش مطابق ۱۹٤۷ میلادی در زمان حکومت شاه محمود خان این اداره در چوکات صدارت عظمی به عنوان ریاست قبایل عرض اندام نمود. بتاریخ ۱۹ سنبله سال ۱۳۳۲ مطابق ٦ سپتمبر ۱۹۵۳ سردار محمد داود خان ریاست قبایل را در چوکات کابینه بریاست مستقل قبایل ارتقاء داد. در ۲٦ سرطان ۱۳۵۲ مطابق ۱٦ جولای ۱۹۷۳ با استقرار نظام جمهوریت توسط سردار محمد داود خان ریاست مستقل قبایل به وزارت امور سرحدات و قبایل در چوکات کابینه تشکیل شد.
- در ماه اسد سال ۱۳٦۰ نام وزارت به وزارت امور اقوام و قبایل بعداً بنام وزارت امور سرحدات و قبایل تعویض و توام با اعلام کابینه رئیس جمهور منتخب به وزارت امور سرحدات ، اقوام و قبایل مسمی و بعداً در سال ۱۳۹۲ بالاثر فیصله شوارای محترم وزیران، این وزارت به نام وزارت امور سرحدات و قبایل مسمی شد.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۰۱.پوښتنه:**دافغانستان اوسنی اساسي قانون په کوم کال کې دچالخواجوړشو؟

**ځواب:** دافغانستان اوسنۍ اساسي قانون په ۱۳۸۲ ه ش کال دمرغومې په ۱۳ دلويې جرگـې لخـوا جوړشو.

**۱۰۲.پوښتنه:** افغانستان څوولايتونه او ولسوالۍ لري؟

**ځواب:** افغانستان ۳۴ ولايتونه او ٣٦٥ ولسوالۍ لري.

**۱۰۳.پوښتنه:** افغانستان څومره مساحت (پراخوالی) لري؟

**ځواب:** ٦٥٢٨٦٤ کيلومتره مربع.

**۱۰۴.پوښتنه:** افغانستان څومره نفوس لري؟

**ځواب:** افغانستان تقريباُ ۳۲ ميليونه نفوس لري.

**۱۰۵.پوښتنه:** دافغانستان خلک په څوژبوخبرې کوي؟

**ځواب:** په ۳۵ ژبو.

**۱۰٦.پوښتنه:**دافغانستان اوسنۍ اوپخواني پايتختونه (پلازمينې)کومې دي؟

**ځواب:** اوسنی پايتخت(پلازمينه) :کابل

پخواني پلازمينې: بلخ،هرات،غور،غزنی اوکندهار.

**۱۰۷.پوښتنه:** په افغانستان کې څومره قومونه ميشت دی؟

**ځواب:** دافغانستان داساسي قانون په استناد په افغانستان کې ۱۴ مليتونه(قومونه) ژوندکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۰۸.پوښتنه :** داحمدشاه بابا په وخت کې دافغانستان سرحدونه کوم ؤ؟

**ځواب:** دځينو مورخينو په وينا: د احمدشاه بابا د امپراطورۍ سرحدات ، چې يو وخت يې تر ١٦ درجو طول البلد پورې پراخوالی درلود، په دقيقه توگه يې ټاکل مشکل کار دی، خو په شرق کې د سرهند نه نيولې ، چې د ډهلي په ۱۵۰ ميلۍ کې پروت دی، په غرب کې تر مشهده پورې ، چې خزر درياب نه په همدې فاصله کې پروت دی او پلنوالی يې د امو له سيند نه نيولې په جنوب کې د فارس تر خليج پورې رسېده.

**۱۰۹.پوښتنه:** دتاريخ په اوږدو کې افغانستان په کومو نومونوسره ياد شوی دی؟

**ځواب:** آريانا،باختر،خراسان او افغانستان .

**۱۱۰.پوښتنه:** ملي شورا(پارلمان) څه وخت منځ ته راغی؟

**ځواب:** دملي شورا لپاره لومړنۍ هڅې غازي امان الله خان وکړې چې ددولت شوراېې جوړه کړه خو غازي نادرخان په ۱۳۰۹ ه ش کال کې ملي شورا ديوې جرگې په ترڅ کې منځ ته راوړه.چې مشرېې د وردگو استازی عبدالاحدخان ؤ چې غازي نادرخان پخپله وټاکه.

**۱۱۱.پوښتنه:** په افغانستان کې څومره مذهبونه دي؟

**ځواب:** د افغانستان د نفوس په سلو کې له ۹۹ څخه ډېر يې مسلمانان دي، چې ۸۰ په سلو کې سني، ۱۹ په سلو کې شيعه او يو په سلو کې د نورو مذهبونو پيروان، لکه هندوان ، سکان او ډېر کم عيسويان جوړوي.

**۱۱۲.پوښتنه:** دافغانستان لومړنۍ جريده کومه ،په کوم کال اودچاپه وخت کې منځ ته راغله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب:** په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۲۹۰ ه ش کال کې د امیر شیرعلي خان د سلطنت په وخت کې د شمس النهار جریده چاپ شوه.

**۱۱۳.پوښتنه :** سراج الاخبار جریده په کوم کال اودچا دواکمنۍ په وخت کې چاپ شوه؟

**ځواب:** ا په ۱۲۹۴ لمریز کال کې د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال سراج الاخبار چاپ شو، چې د امیرعبدالرحمان خان په وخت کې هم چاپ کېده.

**۱۱۴.پوښتنه:** په اماني دوره کې کومې مجلې چاپ کیدلې؟

**ځواب:** په اماني دوره کې دارشادالنسوان او انیس مجلې چاپ کیدلې . انیس مجله اوس دورځپاڼې په توګه چاپ کیږي.

---

**۱۱۵.پوښتنه:** لانجه(منازعه) څه شی ده؟

**ځواب:** لانجه یا(conflict) دشخړې،منازعې ،اختلاف ،کشمکش ،جګړې اوټکرپه معنې سره ژباړل شوې ده چې دافرادو،ډلو اوبنسټونو ترمنځ دافکارو،ګټو او غوښتنو دتصادم (ټکر) له امله منځ ته راځي.

**۱۱٦.پوښتنه:** لانجه(منازعه) په څو ډوله ده؟

**ځواب:** لانجه په درې ډوله ده:

۱- دمنابعو لپاره، ۲- دارزښتونو لپاره، ۳- دنامتناسبو اړیکو لپاره.

**۱۱۷.پوښتنه:** دلانجې او تاوتریخوالي ترمنځ توپیرڅه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځواب:** لانجه کیداى شي مثبته پايله ولري يامنفي خو؛ تاوتريخوالى هميشه منفي جنبه لري،لانجه په طبعي ډول منځ ته راځي اما تاوتريخوالى دافرادو لخوا ترسره کيږي،لانجه غيرقابل اجتناب ده او خشونت له زيان سره مل دى ، دلانجې په پاى کې انکشاف منځ ته راتلاى شي مگر خشونت د ورانۍ سبب گرځي، منازعه له تاوتريخوالي پرته حل کيداى شي مگر خشونت په جنگ اوجنجال سره پاى ته رسيږي.

**۱۱۸.پوښتنه:** دلانجې سطحې کومې دي؟

**ځواب:**لانجه په پنځو : فردي ياشخصي،فاميلي(کورنۍ)، ټولنې ،ملي اونړيواله سطحه پيښيږي.

**۱۱۹.پوښتنه :** دلانجې مراحل کوم دى ؟

**ځواب: ۱-** له لانجې مخکې مرحله(ناراحتي)،۲- مخامخ کيدنه،۳- بحران،۴-نتيجه ، ۵- روغه جوړه

**۱۲۰.پوښتنه :** داورسره دلانجې دمشابهت مراحل کوم دى؟

**ځواب:** ۱- دسون توکي،۲-جرقه،۳- دود يالوگى،۴- شغله ياشعله،۵- لمبه زياتيدنه،٦- ايرې.

**۱۲۱.پوښتنه :** تاوتريخوالى څه شى دى تعريف يې کړئ؟

**ځواب:** هغه فعاليتونه ،الفاظ،ذهنيتونه او سيستمونه چې لوړو استعدادونو ته درسيدلو مخنيوى کوي او دفريکي ،رواني اواجتماعي يامحيطي تاوان سبب گرځى تاوتريخوالى بلل کيږي.

**۱۲۲.پوښتنه :** تاوتريخوالى (خشونت) په څوډوله دى؟

**ځواب:** په دوه ډوله دى : ۱- فزيکي،۲- ساختاري،۳- فرهنگي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۲۳.پوښتنه:** منځګړیتوب(میانجیګري) څه شی ده؟

**ځواب:** منځګړیتوب یا(mediation) هغه فعالیت ته ویل کیږي چې دهغه پربنسټ یو بې طرفه شخص دلانجې ددواړو اړخونو ترمنځ اختلاف له منځه وړي.

**۱۲۴.پوښتنه:**منځګړی چاته ویل کیږي؟

**ځواب:**منځګړی یا(mediator) له یوه دریم اوبې طرفه شخص څخه عبارت دی چې دیوې لانجې په حل اوفصل کې خپل رول ترسره کوي.

**۱۲۵.پوښتنه:**دمنځګړیتوب شرایط کوم دی؟

**ځواب:**

- دمنځګړي فزیکي شتون .
- دمنځګړیتوب ددواړو خواوو شتون.
- په منځګړیتوب کې دلانجې ددواړو خواوو مشروعیت.
- ددواړو خواوو څخه په رسمیت پیژندل.
- داختلاف شتون.
- داختلاف موضوع معلومول او له دواړو خواوو سره خبرې اترې کول.
- ددواړو خواوو دتصمیم پایله معلومول.
- هوکړه او دمنځګړیتوب پایله اعلانول اومنل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۰٦.پوښتنه:**دمنځګړي صفتونه کوم دی؟

**ځواب:**

- عمر:مشراو داحترام وړ.
- مهارت اومعلومات درلودل: نرخيان،ديني علماء،ملکان اوخانان...
- مذهبي خلک: سيدان ،علماء،پيران...
- سپيڅلتيا: متقي اوپرهيزګاره خلک.
- ناپلوي توب: بې طرفه شخص چې ددواړو لوريو دمنلو وړ وي .
- نيک شهرت: ښه نوم او له ښې کورنۍ څخه..

**۱۲۷.پوښتنه :** دمنځګړيتوب مراحل کوم دی ؟

**ځواب:**

۱. مقدماتي خبرې
۲. افتتاحيه وينا
۳. له دواړو لوريو دتهد اخيستل
٤. داصلي موضوعاتو بيانول
٥. اجنډا جوړول
٦. دنظرياتو دتبادلې لپاره زمينه برابرول
۷. دحل لارې چارې لټول
۸. پايله يا نتيجه ترلاسه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۹.** اختتامیه وینا

**۱۲۸.پوښتنه:** غونډه (جلسه) څه شی ده؟

**ځواب:** غونډه یاجلسه ددوه یاځو افرادو یا سازمانونو ترمنځ یوځای غونډېدلو او کیناستلو ته ویل کیږي چې دچارو دانسجام لپاره مسائل تربحث لاندې نیول کیږي او تصمیم پرې نیول کیږي.

**۱۲۹.پوښتنه:** شورا څه شی ده؟

**ځواب:** شورا دمشورې کولو په مانا ده او د چارو او مسائلو دحل او فصل په موخه دنظریاتو شریکول او یوه مناسبه پریکړه کولو ته شورا ویل کیږي.

**۱۳۰.پوښتنه:** ټولنه تعریف کړی؟

**ځواب:** ټولنه یاجامعه هغه ځای ته ویل کیږي چې په هغه کې یوه ډله افراد دمشترکو عنعنو ،رواجونو فرهنګ او ګټو په لرلوسره ژوند کوي .

**خدایا چنان کن سر انجام کار**

**که تو خوشنود باشي و ما رستگار**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مآخذونه:


١. عطايي،محمدابراهيم،دپښــــتني قبيلواصـــطلاحي قـــاموس، دسرحـــدونو اوقبايلوچــــارو وزارت،کابل،۱۳۹۴ ه ش.

٢. رفيع،حبيــــب اللــــه ، دافغـــــاني جرگــــواجتماعي او رواني ارزښتونه،دافغانســــتان دمطالعاتومرکز،پيښور.

٣. وجدي،عبدالجليل،پـه افغانســتان کــې دعنعنـوي جرگـونن اوپرون،امـان کتـاب خپرولـو اداره،پيښور،۱۳٦٥ ه ش.

٤. رفيع،حبيب الله ، لويه جرگه، دسرحدونواوقبايلوچارو وزارت، ۱۳۹۷ ه ش، کابل.

٥. جرگه مجله،۱۰۳ گڼه،دريمه دوره ورى ۱۳۹۷ ه ش .

٦. جرگه مجله،۱۰۴ گڼه،دريمه دوره ورى ۱۳۹۸ ه ش .

٧. **ويب پاڼې :**

A. **www.mobta.gov.af**

B. **www.bbc.com**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**